# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

دوشنبه د ۱۳۹۹ د مرغومې اتمه | د ۲۰۲۰ د ډسمبر ۲۸مه | ۶۵۳مه گڼه


## ولایت

۴ مخ


### غور

په غور کې له ۸۰۰ ډېر ښوونځي شته چې له دې ډلې ۱۸۰ یې د ښځو، ۱۵ یې گډ او پاتې نور یې د هلکانو ښوونځي دي. د دې ښوونځیو د زده کوونکو شمېر ۲۰۰ زرو ته رسېږي، چې د ٤٤۰۰ ښوونکو لخوا ورته تدریس کېږي.



خپلواک:

### د بدخشان د شورابک بند د جوړېدو ۹۵ سلنه چارې بشپړې شوي



د اوبو د چارو د تنظیم ملي اداره وایي چې په بدخشان کې د شورابک د برېښنا د تولید بند ۹۵ سلنه چارې بشپړې شوي او په روان کال کې به گټې اخیستنې ته وسپارل شي.

د یادې ادارې چارواکي وایي چې دغه بند ته د ۵۱ میلیونو امریکایي ډالرو پانگه ځانگړې شوې چې د جرمني هېواد له خوا تمویلېږي. د اوبو د چارو د تنظیم ادارې ویاند نظام خپلواک رسنیو ته ویلي: «د شورابک بند برېښنا تولید لپاره جوړېږي چې ۹۵ سلنه کار یې بشپړ شوی دی.» هغه زیاته کړې چې د شورابک بند پروژې بشپړېدو سره به ۷،۵ میگاواټه برېښنا ترلاسه شي. دا په داسې حال کې ده چې په هرات کې د پاشدان بند د جوړېدو چارې هم ۶۰ سلنه بشپړې شوې دي.

ولسمشر محمد اشرف غني دوې اونۍ مخکې ویلي وو چې افغانستان په مجموعي ډول له اوبو، باد او لمر نه د ۳ سوه زرو میگاواټه برېښنا د تولید ظرفیت لري.

# د مذاکراتو راتلونکی پړاو؛

## ولسمشر غني دوحه کې د مذاکراتو له دوام سره توافق کړی دی



۳

### هدفي بریدونه؛ اعلامیه او تشې ژمنې درد نه دوا کوي

۲ مخ

### اغزن تار؛ د ترهگرۍ د مخنیوي لپاره که د «لر او بر یو افغان» له وېرې؟

۲ مخ

### د امین او کارمل سیاسي ناندرۍ او د شورویانو خونړی برید

۳ مخ

### صالح: د کابل ښار په ورستیو عملیاتو کې هېڅ بهرنی نه دی نیول شوی

د ولسمشر لومړي مرستیال امرالله صالح ویلي چې د کابل ښار د وروستیو ورځو په عملیاتو کې بهرنیان نه دي نیول شوي. دا په داسې حال کې ده چې د کورنیو چارو وزارت ویاند طارق ارین ورمه ورځ د نورو جزییاتو له ورکولو پرته ویلي وو، چې د کابل ښار په خیرخانې سیمه کې هدفمند عملیات ترسره شوي دي.

بلخوا د سیمې اوسېدونکو ویلي چې د خیرخانې په بېلابېلو سیمو کې د څو ساعتونو لپاره عملیات روان وو او خلکو ته یې اجازه نه ورکوله، چې له کورونو څخه ووځي.

بلخوا په دې وروستیو کې داسې راپورونه هم خپاره شول چې گوندې په دغو عملیاتو کې چینایي وگړي نیول شوي، خو د ولسمشر لومړي مرستیال امر الله صالح دا خبره رد کړې او ویلي یې دي چې په دې عملیاتو کې هېڅ کوم بهرنی وگړی نه دی نیول شوی.

نوموړي تېره ورځ د کابل ښار د امنیتي ناستې په راپور کې لیکلي، چې په دغو عملیاتو کې یو شمېر کسان نیول شوي چې په هدفي وژنو او تبښتونو کې یې لاس درلود.

صالح دغه راز ویلي چې دوه نور کسان د چسپکي ماین د لېږدولو پر مهال لاس په لاس نیول شوي دي. تر دې مخکې ځینو امنیتي سرچینو او بهرنیو رسنیو خبر ورکړی چې دوې اونۍ مخکې د کابل ښار په دریو سیمو کې د ملي امنیت له خوا هممهاله د عملیاتو پر مهال لس چینایي وگړي د ترهگریزو فعالیتونو په تور نیول شوي دي، خو تر اوسه رسمي سرچینو په دې اړه څه نه دي ویلي.

### مشرانو جرگه: د روان وضعیت دوام خلک اندېښمن او پر حکومت بې باوره کړي



۵ مخ

### به هزینۀ ۲۰ میلیون دالر انستیتوت رباتیک در کابل ساخته می‌شود



تفاهمنامه همکاری میان اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی و موسسۀ دیجیتال ستیزن فاند برای ایجاد «انستیتوت رویاپردازان» در کابل امضا شد.

این نخستین گام بلند و رسمی برای توسعه تکنولوژی رباتیک در افغانستان است. ندیمه سحر رئیس اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی افغانستان گفت که امضای تفاهمنامه راه را برای ساختن ساختمان «انستیتوت رویاپردازان» در محوطۀ پوهنتون کابل در آینده نزدیک هموار می‌کند: «در پوهنتون کابل در ۱۰ جریب زمین ساخته می‌شود. ما تا ساخت آن برای تیم رباتیک مکانی دگر خواهیم داد.»

به گفته خانم سحر، این انستیتوت می‌تواند در چند سال آینده در زمینه ربات‌سازی و ساینس افراد حرفه‌ای را آموزش دهد و این کار بر اقتصاد کشور نیز تاثیر مثبت خواهد داشت.

در همین حال رویا محبوب، رئیس موسسه «دیجیتال ستیزن فاند» گفت که پوهنتون «ای‌ایل» بیست میلیون دالر برای ساخت انستیتوت رویاپردازان و تجهیزات آن در ولایت‌های مختلف و پروژه‌های دگر کمک کرده است.

این موسسه پیش از این تیم دختران رباتیک هرات را حمایت کرده است. خانم محبوب گفت که این موسسه به دو گروه دگر هم در زمینه توسعه فناوری رباتیک کمک کرده است: «ما فعلاً در نظر داریم که در سال اول به ۸۰۰ شاگرد تدریس شود. پروسه تدارکات تا ساختش حداقل یک الی ۲ سال طول خواهد کشید و قرار است برای ما مکان‌های موقت در کابل و هرات داده شود.»


Aksos

اکسوس کتابپلورنځی

Aksos Book Store

Add a Book to Your Life

دهبوری پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

aksosbookstore@gmail.com

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

Aksos Book Store

## سرلیکنه

### هدفي بریدونه؛ اعلامیه او تشې ژمنې درد نه دوا کوي

تېره ورځ په ارگ کې د ولسمشر غني په مشرۍ د سر اعلی قوماندانۍ غونډه ترسره شوې ده. ولسمشر په دې غونډه کې تر ډېره په هېواد کې پر وروستیو روانو بریدونو او هدفي وژنو خبرې کړې دي. هغه ویلي چې د هېواد دښمنان تر ډېره په دې بریدونو کې د فکر او عمل له مخې... دغه راز د پرمختللي افغانستان لپاره روزل شوي شخصیتونه ترور کوي. ولسمشر غني امنیتي ادارو ته سپارښتنه کړې چې ژر تر ژره دې د رسنیو، مدني فعالانو او علماوو د ساتنې لپاره اقدامات ډېر کړي. هغه وروستي هدفي بریدونه غندلي او د جدي اندېښنې وړ یې بللي دي.

دا لومړی ځل نه دی چې ولسمشر غني د رسنیو، مدني فعالین، علماوو او د ټولنې د نورو قشرونو د ساتنې لپاره حکومتي چارواکو ته مسوولیت ورسپاري. دا لومړی ځل نه دی چې ولسمشر د خلکو د خوندیتوب، فساد له منځه وړلو، ستونزو د حل، ملکي خلکو له مرگ ژوبلې د مخنیوي، د جنایتونو د څېړنو او نورو ورته مسایلو په اړه پلاوی ټاکي او یا چارواکو ته د پېښو د څېړلو او ارزولو مسوولیت سپاري، بلکې دا هر څه نور رسنیو او خلکو ته تکراري دي. د حکومت د تېښتې لار اوس یا اعلامیه ده او یا هم د داسې پلاوو او هیئتونو گومارل چې دوی مسایل وڅېړي او راپور ولسمشر ته ورکړي. روان کال گڼې داسې پېښې وشوې چې لا یې هم رسنیو ته په اړه وضاحت نه دی ورکړل شوی. لا یې هم عاملین نه دي نیول شوي او لا هم نه ده روښانه شوې چې پلاوی څه شو او پلاوی چېرته دی یا پلاوی څه کوي.

د کابل پوهنتون پېښه، د خبریالانو په نښه کېدل، ملکي مرگ ژوبلې دا ټول هغه موارد دي چې حکومت یې په اړه د پلټنو او دغه راز د پلاوي د گومارلو خبره کړې ده، خو پایلې یې لا روښانه شوې نه دي. اوس د پایلو پلټل او اعلامیو خپرول ښخي د تېښتې لار جوړه شوې او حکومت دومره بې پروایي کوي چې عام ولس یې مایوسه کړی، خو د وروستیو هدفي وژنو په اړه باید داسې چوپتیا او بې پروایي غوره نه شي. د کابل ښار تر بل هر وخت نا امنه شوی دی. وسله وال په دې ښار کې له وسلو سره گرځي او خپل هدف په نښه کوي او حکومت به بیا هم دا تمه لري چې څوک ورباندې نیوکه ونه کړي او د دې هر څه پوښتنه ترې ونه کړي. دا د زغم وړ مسئله نه ده. حکومت دې له وړ خلکو سره په مشوره په بنسټیزه توگه په کابل کې د نا امنیو د ختمولو او هدفي بریدونو د پای لپاره حللاره پیدا کړي. دا وحشت د هیئت، پلاوي او اعلامیو په خپرولو نه ختمېږي، بلکې د حکومت قوي ارادې، منظم پلان او صادقانه هڅو ته اړتیا لري. هدفي وژنې د حکومت، مدني ټولنې او رسنیو د کمزورۍ سبب گرځي چې په دې سره به دا کمزوري په لسیزو کې هم بېرته درمان نه شي.

# اغزن تار؛ د ترهگرۍ د مخنیوي لپاره که د «لر او بر یو افغان» له وېرې؟

لیکنه: زردشت شمس

د پاکستان پوځ په دې وروستیو کې رسنیو ته ویلي چې له افغانستان سره د ۲۶۰۰ کلومتره اوږدې ډیورنډ کرښې په ۸۰ سلنه برخه یې د اغزن تار غځولو کار بشپړ کړی دی. پاکستان د دې کار موخه د ترهگرو مخنیوی بللی او اطمینان یې ښودلی چې له دې کار سره یې په هیواد کې ترهگري کمه شوې ده.

په ۱۸۹۳ کال کې د افغانستان او برېټانوي هند د حکومتونو تر منځ د ډیورنډ تړون پر اساس تاریخي افغان خاوره په شمال کې له پامیره نیولې او سوبل کې تر چمن او د هلمند تر وروستي بریده له افغانستانه جلا او د برېټانوي هند تر واک لاندې راوستل شوه. خو د افغانستان وروستیو پرله پسې حکومتونو او ولس یاد تړون غندلی او په ۱۹۴۹ کال کې جوړې شوې تاریخي لویې جرگې د ډیورنډ په گډون له برېټانوي هند سره شوي ټول تړونونه لغوه اعلان کړي.

په ۱۹۴۷ کال کې د برېټانوي هند د ویش په پایله کې یادې سیمې چې افغانستان پرې دعوا لرله، د یوه متنازعه ټولپوښتنې پراساس نوي رامنځ ته شوي پاکستان ته ورکړل شوې. په دې توگه ویلی شو چې د پاکستان له جوړېدو راهیسې ترننه د دواړو هېوادونو تر منځ د ستونزو مور همدا مسئله ده.

یادې کرښې یو قوم او ولس په ډېر غیر عادلانه او غیر انساني توگه سره جلا کړی. د کرښې په اوږدو کې ډېرې داسې سیمې شته، چې یو ورور یو خوا او بل بلخوا پاتې شوی، حجره یو خوا ده او جومات بلخوا، کلی د کرښې یو اړخ ته او هدیره یې بل اړخ ته او همدا شان که د اوسېدو ځای یو اړخ ته دی، نو کرنیزې ځمکې او د سوداگرۍ بازار یې بل اړخ ته پاتې دی.

برېټانوي هند هم د ولسونو یووالي او پر یو بل انحصار ته په کتو د دوی تگ راتگ، راکړې ورکړې او د سوداگرۍ پر وړاندې یې هېڅ ډول خنډونه نه رامنځ ته کول؛ بلکې اسانتیاوې یې ورکړې وې. همدا دلیل و چې ولسونو دغه کرښه په رسمیت نه پېژندله، خو بیا هم په لویه کچه کوم تاوتریخوالی نه پېښېدو او د خلکو ژوند په عادي ډول روان و.

خو په وروستیو کې لیدل کېږي چې پاکستان د کرښې دواړو خواوو د ولسونو یووالي ته د یوه فرصت پرځای د گواښ په سترگه گوري او ټوله هڅه یې دا ده چې څرنگه وکولای شي د دوی تر منځ اړیکې پرې کړي. افغان جهاد، له طالبانو ملاتړ او د ترهگرۍ پر ضد مبارزه هاغه څه دي چې پاکستان یو اړخ ته د ډیورنډ کرښې ته د رسمیت ورکولو لپاره او بلخوا په قبایلي سیمو کې د خپل حاکمیت پیاوړي کولو لپاره ترې د وسیلې په توگه کار واخیست او لا یې اخلي.

پر دې سربېره، پاکستان په یو اړخیزه توگه په کرښه تار غځولی او ډېرې هاغه سیمې چې له ۸۰/۱۹۷۹ کلونو وړاندې د افغانستان تر ولکې لاندې وې، اوس دوی قبضه کړې دي. دا چې ډیورنډ یوه فرضي کرښه ده او په ډېرو سیمو کې نه ده تثبیت شوې او یوازې مېشتو ولسونو ته معلومه ده؛ خو د افغانستان له گډوډۍ څخه په گټه اخیستو پاکستان په کرښه مېشتو ولسونو ته د هویت کارتونه وېشلي، سړکونه یې غځولي، نورې اسانتیاوې یې برابرې کړې او د دوی وفاداري یې خپله کړې ده. داسې معلومات هم شته چې د ننگرهار گوشتې او کامې او د کونړ د ځینو ولسوالیو اوسېدونکیو ته یې هم کارتونه ورکړي، څو غلي پاتې شي.

ولې اغزن تار؟

پاکستان په تېرو څلورو لسیزو کې د کرښې نږدې خپل فعالیت او نظامي حضور پراخه کړی. د هېوادپاله قبایلي مشرانو له منځه وړل، په قبایلي سیمو کې افراطیت ته وده ورکول، افغانستان او کشمیر کې فعاله د جهادي تنظیمونو او بیا د طالبانو مراکز جوړول او بالاخره په لوی لاس یادې سیمې ناامنه کول چې پوځي مداخلې ته بهانه جوړه کړي، هاغه اقدامات دي چې پاکستان په تدریجي توگه تر سره کړل. له ۲۰۰۱ کال راپدېخوا له ترهگرۍ سره د جگړې په نوم پاکستان د امریکا په مالي مرسته په یاده کرښه په یو اړخیز ډول ډېرې پوځي چاونۍ جوړې او د اغزن تار په غځولو یې لاس پورې کړ.

له قبایلو سره شویو ظلمونو ولس کې د پاکستاني ریاست په ځانگړې توگه د پوځ پر ضد زیاته کرکه زېږولې او اوسمهال یې د پښتون ژغورنې غورځنگ په نوم پراخه مبارزه پیل کړې. داسې لیدل کېږي چې له کله راهیسې چې قبایلو کې د حق غوښتنې وېښتیا او د پوځ پر ضد کرکه د پخوا په پرتله زیاته شوې، پاکستان د ډیورنډ پر کرښه اغزن تار غځولو ته سرعت ورکړی. پښتانه له خپل تاریخ او دود دستور لرې ساتل د پاکستاني ریاست پخوانۍ تگلاره وه، خو اوسمهال دوی فکر کوي چې د لر او بر ولسونو د اړیکو پیاوړتیا گڼې پښتانه افغانستان ته نږدې کوي او د یوه گواښ په سترگه ورته گوري.

اغزن تار او ترهگري

تر اوسه داسې کوم ښکاره شواهد نشته چې گڼې اغزن تار دې په تاوتریخوالي کې کمښت راوستی وي. د افغان لوري معلومات ښیي چې اغزن تار د ترهگرو په تگ راتگ او بریدونو کې کوم د پام وړ اغېز نه دی کړی. د طالبانو په گډون، نورې وسله والې ډلې لکه داعش او د هند کشمیر کې فعاله ډلې په اسانۍ سره په اغزن تار تگ راتگ کوي. همدا راز د نشه یي توکیو قاچاقبران هم په ازاده توگه خپل کاروبار کوي او ډېرۍ بازارونه یې هم د کرښې نږدې جوړ کړي. د بېلگې په توگه، اوسمهال د هلمند برامچه د سیمې په کچه د نشه یي توکیو د سوداگرۍ په مرکز بدله شوې سیمه ده. په داسې حال کې چې دا ټول کاروبار د پاکستاني پوځ تر سترگو لاندې روان دی او دوی هلته ډېرې پوځي پوستې لري. د افغانستان خوا ته بیا نظامي حضور ډېر کمرنگه او په نشت برابر دی. همدا راز افغان طالبان هم یاده سیمه کې پراخ حضور لري او د عوایدو لویه برخه یې هم له دې ځایه تمویلېږي.

فاټا یا د قبایلي سیمو ادغام

له تاریخي پلوه قبایلي سیمو د افغانستان او برېټانوي هند حکومتونو تر منځ د یو بفر ساحې حیثیت درلود. د پاکستان په اساسي قانون کې هم قبایلي سیمو تر ۲۰۱۸ کال پورې ځانگړې حیثیت درلود او د نورو سیمو برعکس مستقیم د فدرالي حکومت لخوا اداره کېدې. پاکستان تر ۱۹۷۹ کال پورې د افغانستان دریځ ته په کتو چې قبایلي سیمې یې د خپل نفوذ ساحې گڼلې، په یادو سیمو کې له پام وړ مداخلې څخه ډډه کوله. همداراز د قبایلي ولس مرسته او ملاتړ د افغان حکومت لومړیتوب و او د دې چارو د ښه تنظیم لپاره په ۱۹۴۷ کال کې د قبایلو ریاست رامنځ ته کړای شو، چې وروسته بیا په ۱۹۷۳ کال کې د سردار محمد داوود خان په حکومت کې یې وزارت ته ارتقاع ومونده. قبایلو په افغانستان کې د نورو افغانانو په څېر حقوق لرل. د زده کړو، سوداگرۍ او ان تر دولتي ماموریتونو پورې اسانتیاوې او امتیازات ورکړل شوي وو؛ خو د ۱۳۵۷ کال د ثور له کودتاه وروسته د افغانستان حکومت د مجاهدینو پر وړاندې چې د پاکستان ملاتړ ورسره و، کمزوری شو او تدریجي له ډیورنډ کرښې سره نږدې ساحې یې له لاسه ووتې. همدغه مهال پاکستان نه یوازې په قبایلي سیمو کې؛ بلکې ان د کرښې دې غاړې ولایتونو ته یې هم پراخ لاسرسی پیدا کړ او لاسوهنه یې پیل کړه. ملتپاله قبایلي مشران یې له منځه یوړل یا یې پرې ډول ډول فشارونه راوړل څو د پاکستان حاکمیت ومني او له افغانستان سره اړیکې پرې کړي. قبایلي سیمې د افراطیت د روزنې او پالنې په مرکزونو بدل شول. د مجاهدینو او بیا د طالبانو ستر مرکزونه او د وسلو زېرمتونونه هم په یادو سیمو کې وو چې بالاخره له ۲۰۰۱ کال وروسته له تروریزم سره د جگړې په بهانه پوځ هم ځای پر ځای کړای شو.

که څه هم په فاټا کې د برېټانوي هند له واکمنۍ نافذه د ایف سي ار قانون یو غیر انساني او ظالمانه قانون و؛ خو د پاکستان د نظامي واکدارانو لېوالتیا قبایلي ولس ته د حقونو ورکولو پرځای د سیمې لاندې کولو ته مایله وه. ځکه له ادغام نږدې دوه کاله وروسته هم قبایلي ولس ته لکه د نورو سیمو جمهوري حقونه نه دي ورکړل شوي او اوس هم پوځي چارواکي په هر څه حاکم دي. په ۲۰۱۹ کال کې د پښتونخوا ایالتي شورا یو قانون تصویب کړ چې د قبایلي سیمو تر ځمکې لاندې معدنونه او منرالونه د حکومت ملکیت دی. د پښتونخوا ملتپاله گوند عوامي نیشنل پارټۍ چې پښتونخوا کې د فاټا د ادغام کلک غوښتونکې وه، اوس شکایت کوي چې له قبایلي ولس سره شوې وعدې نه دي پوره شوې.

د افغان حکومت دریځ

په وروستیو کې د پاکستان د تهاجمي سیاست پر وړاندې د توقع برعکس افغان حکومت دفاعي او پڅ دریځ خپل کړی. اغزن تار، پر کرښه په یو اړخیزه توگه پوستې جوړول او د قبایلي سیمو د ادغام پر مهمو موضوعاتو افغان حکومت گونگ دریځ خپل کړی او لازم غبرگون یې نه دی ښودلی. په ۲۰۱۷ کال کې پاکستان د چمن- بولدک سیمه کې په کرښې پرتو لقمان او جهانگیر کلیو کې سرشمېرنه پیل کړه، چې د افغان سرحدي ځواکونو له سخت غبرگون سره مخ شوه. سره له دې چې په سیمه کې ځواکونو او هم ولس میړانه وکړه، خو د میز پر سر هماغه څه ومنل شو چې پاکستان غوښتل او وروسته په یاده سیمه کې اغزن تار هم تیر کړای شو. همدارنگه په ټولو هغو نښتو کې چې د ډیورنډ په کرښه رامنځ ته شوې، افغان پوله ساتو ځواکونو تر خپله وسه مقاومت کړی، ولې وروسته د مذاکراتو په پای کې هماغه څه منل شوي چې پاکستان غوښتي. د یادولو ده چې یوازې د کندهار مخکینې قوماندان جنرال رازق په دې اړوند تر ټولو پربکنده دریځ درلود او د پاکستان پر وړاندې یې د مرکزي حکومت کمزوري دریځ ته په کتو په سیمه کې کلک مقاومت کاوه او د اغزن تار مخنیوی یې کاوه.

همداراز پاکستان پخوا په قبایلي سیمو کې له پراخې مداخلې څخه ډډه کوله او فکر یې کاوه چې ممکن د افغانستان له کلک غبرگون سره به مخ شي. د جمعیت علمای اسلام گوند مشر مولانا فضل الرحمان چې د قبایلي سیمو د ادغام کلک مخالف و، یوه ځانگړې ناسته کې چې زه هم هلته موجود وم، وویل چې: «ستاسې حکومت ولې دې موضوع کې غلی دی؟ موږ خو فکر کولو چې تاسې په دې اړه ډېر سخت او ټاکلی دریځ لری او ما (مولانا) د پاکستان حاکمو کړیو ته ویلي چې دا موضوع مه چېړئ، گنې د افغان حکومت له سخت غبرگون سره به مخ شی او اړیکې به مو لازیاتې خرابې شي.» ولې په وروستیو کې د افغان حکومت بې تفاوته دریځ پاکستان ډاډه کړ چې بالاخره یادې سیمې یې په مدغم کولو سره په بشپړه توگه تر ولکې لاندې راوستې.

اوسني افغان حکومت که څه هم د پاکستان د راکېټي بریدونو له امله ملگرو ملتونو ته ډېر ځلې شکایت کړی، ولې په اغزن تار یې په نړیواله کچه کوم د پام وړ احتجاج ونه کړ. اسناد ښیي چې د پخواني ولسمشر حامد کرزي د حکومت پر مهال د ملگرو ملتونو د هاغه مهال لوی منشي بان کي مون ته افغان حکومت د پاکستان لخوا د اغزن تار په جوړولو خپل اعتراض لیک استولی و.

د اغزن تار غځول، د ولسونو په تگ راتگ بندیزونه او د ویزې جبري کول هاغه اقدامات دي چې د دواړو هیوادونو اړیکې به مدام گواښي؛ خو که پاکستان د اغزن تار پر ځای د «پرانیستې پولې» پالیسي خپله کړي، نو د ډیورنډ د تاریخي شخړې سربېره د دواړو هېوادونو تر منځ ښو اړیکو ته هیله مندي کېدای شي.

# د امین او کارمل سیاسي ناندرې او د شورویانو خونړی برید

استاد شهسوار سنگروال

که څه هم د افغانستان د خلک ډیموکراتیک گوند د مارکسېزم له تیوري نه سرچینه اخیستې وه، ولې بیا هم د حفیظ الله امین سیاسي سیالانو دی د ناسونالېست او فاشست په نوم یاداوه او ان تر دې چې دی یې د یوگوسلاویا د مشر مارشال تیتو سره پرتله کاوه.
په دې اړه هماغه وخت دا خبرونه هم خپاره شول، چې ببرک کارمل، دی شوروي مشرانو ته د یوه ناسیونالېست په بڼه معرفي کړ، چې په ده دې برژنف او نورو چارواکو شک لا هم زیات شو.
خبره همدا وه، شورویانو له حفیظ الله امین سره سیاسي ستونزه لرله، که نه، نظام ته کوم گواښ نه و موجود. دا هسې پلمه وه چې گنې افغانستان د امریکا متحده ایالاتو او پاکستان تر گواښ لاندې دی.
د امریکا ځینو چارواکو هم داسې انگېرله چې گنې سرو لښکرو ځکه حفیظ الله امین له منځه یووړ، چې د ده په شتون کې دولت له ماتې سره مخ و، ولې دا یوه تېروتنه وه.
یوه امریکایي ډیپلومات «ارچرک بلود» په کابل کې د امریکا د سفارت کارکوونکي دا خبره په ډاگه کړې ده چې: «رژیم د ماتې له گواښ سره مخ نه و، یوازې روسانو ته انگېرنه دا وه چې ځانونه د امین له شره خلاص کړي.»
شوروي اتحاد دې ده له شره هغه وخت بې غمه شو، چې د جدی په شپږمه یې د KGB په سپارښتنه امین او د سیاسي بېرو غړو ته په شوروا (سوپ) کې زهر واچول.
په دې سره ټول بې حاله شول، یوازې دستگیر پنجشېرې چې د KGB لخوا ورته ویل شوي وو چې سوپ به نه څښې، روغ رمټ پاتې شو. روسي اشپزانو له یوې خوا د دولت لوړپوړي چارواکي بېهوشه کړل او له بلې خوا یې په یوې زوروري چاودنې د ټلیفون مزي پرې کړل. له دې سره جوخت هغه کنډک چې د امین د ساتلو لپاره گومارل شوی و، په مرگوني برید پیل وکړ.
لوی درستیز محمد یعقوب چې غوښتل یې مخابرې ته ځان ورسوي، برید پرې وشو. که څه هم هغه گړۍ مړ نشو، خو وروسته د عبدالوکیل لخوا (د نجیب د حکومت پر مهال د بهرنیو چارو وزیر) پرې یو جاغور خالي شو او ځای پر ځای ومړ.
شوروي اتحاد د حفیظ الله امین د وژلو لپاره درې تنو ته دنده سپارلې وه چې په داسې مهارت یې له منځه یوسي، چې شوروي پوځ ته زیان ونه رسېږي.
سرو لښکرو ته لا دمخه ویل شوي وو چې امین له امریکا او پاکستان سره اړیکې ټینگې کړې دي او کابل ته امریکایي پوځ ننوتی دی. په دغو دریو کسانو کې چې خپلو پوځیانو ته یې د مخه لا دغه ډول روحیه ورکړې وه، یو یې جنرال وېکتور پاپوتین، دویم تن په کابل کې شوروی سفیر فکرت احمد جانوویچ تابیوف او دریم تن د دفاع وزارت مرستیال مارشال «سکولوف» و.
د اندروپوف د سپارښتنې له مخې چې لومړی باید امین له منځه یوړل شي، نو پر همدې بنسټ د نومړي په ماڼۍ KGB ځانگړو پوځونو (زینت، گروم او الفا) د جنرال «گرازدوف» په ښودنه برید وکړ.
«ستېیو کول» د دغه برید په تړاو داسې کاږلي دي: «د KGB قاتلانو د امین کور محاصره کړ او د افغانستان شړل شوي کمونېست مشر ببرک کارمل د امین پر ځای د کېناستلو لپاره یې په یوه ټي – یو ۱۳۴ (TU-134) ډوله الوتکه کې په پټه د بگرام هوایي اډې ته، چې د KGB افسرانو او شوروي پارا پوځیانو (Para-troopers) لخوا ساتل کېده، را ورسېد.»
کله چې د «مسلمان کنډک» په گډون شوروي ځواکونو د امین پر ماڼۍ برید پیل کړ، په سر کې افغان پوځ له امین څخه د دفاع لپاره سخت غبرگون وښود، چې ډېر روسان یې ووژل.
ورته کار په راډیو- افغانستان کې هم وشو (لیکوال په راډیو- ټلوېزیون کې دغه مهال حاضر و)، کله چې هلته برید وشو، له سخت غبرگون وروسته روسي پوځ تر شا شو.
په دغه وخت کې «وطنجار» په لوډ سپیکر کې په افغان پوځ غږ وکړ او هغوی هم پر شا شول.
د امین د ماڼۍ ساتونکو چې کله واورېدل شورویان دي، له دوی نه ځینو سرتېرو هم له دفاع نه لاس واخیست.
هغه وو چې شوروي پوځ ماڼۍ ته ننوځي، حفیظ الله امین او عبدالرحمن (د امین زوی) د شاه ولي د مېرمنې په گډون ځینې کسان وژني.
له یوې خوا د شوروي چارواکو بې باوري وه چې گنې امین غوښتل چې د شوروي او امریکا تر منځ په مناسباتو کې انډول په پام کې ونیسي او له بلې خوا د امریکا متحده ایالاتو هیله درلوده چې د شوروي پښه افغانستان ته راکاږي.
«ریمونډ گارتف» د یوه سند پر بنسټ چې د «اندرو پوف» له څرگندونو نه چې د اکټوبر په ۲۹مه یې د سیاسي دفتر غونډې ته د یوه رپوټ په بڼه په ډاگه کړې وه، چې د افغانستان نوی ولسمشر په پام کې لري د لوېدیځ او ختیځ تر منځ انډول وساتي، دغه سیاست دا په گوته کوي چې امین د واشنگټن په لور کوږ شوی دی، له دې څخه داسې برېښي چې نوموړی شوروي اتحاد ته صادق نه دی.
«گارتف» خو د شوروي له لوري «گورکي ارباتف» په څېر انگېري چې اندروپوف له اندازې زیات پر ببرک کارمل باندې باور درلود. ولې دKGB سیال استخباراتي سازمان، CIA بیا شوروي اتحاد له پخوا نه څاره چې دوی څه غواړي او څه کوي.
ستېیو کول انگېري چې: «CIA په سمه او مکرره توگه د شوروي د پوځونو په هکله معلومات ورکول.»
د ډسمبر په نیمایي کې CIA د شوروي او افغان پر پوله په لویه کچه د شوروي پوځونو ځای پر ځای کېدل کشف کړي وو.
د CIA مشر «ترنر» د امریکا ولسمشر کارتر ته د ډسمبر په ۱۹مه یوه پټه خبرتیا واستوله چې شوروي غواړي په افغانستان کې ښکېل شي، دا ځکه چې د هغه هېواد جنوب لور ته پوځونه استوي.
سره د دې چې د شوروي اتحاد سیاسي او پوځي چارواکي په یوه خوله نه وو، چې پر افغانستان پوځي برید وکړي او ستینوف له یوې خوا د شوروي له سیاسي دفتر سره مخ و او له بلې خوا یې لیدل چې د دفاع وزارت یې په دوو برخو وېشل شوی دی.
امین باید ووژل شي او دا کار هغه وخت شونی دی چې سرې لښکرې برید ته تیارې کړي. د ډسمبر په ۲۲مه د CIA مرستیال بابي انمن په ډېرې بیړې سره چې د شوروي پوځي برید ته لږه موده پاتې وه، د امریکا د دفاع وزیر، هرالد برون او برژنسکي ته خبر ورکړ چې CIA شک نه لري چې د شوروي سور پوځ به په ۷۲ ساعتونو کې پر افغانستان یرغل وکړي.
د CIA له دې خبرتیا څلور ورځې وروسته شوروي پوځونو د ډسمبر په ۲۷مه د تاج بېگ ماڼۍ تر اور لاندې ونیوله. **دوام لري...**

# د مذاکراتو راتلونکی پړاو؛

## ولسمشر غني دوحه کې د مذاکراتو له دوام سره توافق کړی دی



د بین الافغاني مذاکراتو د دویم پړاو پیل ته گوتې په شمار ورځې پاتې دي او ولسمشر غني هم له دې سره توافق کړی چې دویم پړاو مذاکرات دې هم په دوحه کې ادامه پیدا کړي. د ارگ په اعلامیه کې راغلي چې حکومت بیا هم په افغانستان کې د مذاکراتو د راتلونکو پړاوونو پر ترسره کېدو ټینگار کوي.
بلخوا په هېواد کې د جگړو شدت او خونړي بریدونه د جدي اندېښنې وړ مسایل یاد شوي دي. تازه د ولسمشر لومړي مرستیال دا هم ویلي چې طالبان له القاعده سره هېڅ وخت اړیکې نه پرې کوي.
د لومړي پړاو مذاکراتو له پای ته رسېدو سره دا اندېښنه پیدا شوې وه چې ښایي ځینې خواوې د مذاکراتو د دویم پړاو د ځنډ لپاره هڅه وکړي. د حکومت له لوري په افغانستان کې د بل پړاو مذاکراتو د پیل پر سر ټینگار دا اندېښنه لا ډېره کړه. ورمه ورځ په کابل کې د ملي مصالحې عالي شورا د رهبرۍ دویمه ناسته وشوه چې په هغه ناسته کې مهمو سیاسي څېرو گډون کړی و. دوی ټینگار وکړ چې د سولې خبرې دې د ځای پر سر د ناندریو له امله نه ځنډول کېږي. غونډې ته د ملي مصالحې عالي شورا رییس ډاکټر عبدالله عبدالله وویل: ((مذاکرات باید پر خپل وخت ترسره شي. زموږ مسوولیت دی چې دلته روانه جگړه ژر پای ته ورسوو او مذاکرات پایله ولري. له همدې امله د دې جدي اړتیا ده چې د ځای پر سر ناندرۍ باید د مذاکراتو د ځنډ سبب نه شي)).
په همدې تړاو د ملي مصالحې عالي شورا رییس تېره ورځ له ولسمشر غني سره کتلي دي او د وروستیو تحولاتو په اړه یې راپور ورکړی دی. ډاکټر عبدالله عبدالله د ملي مصالحې عالي شورا د غړو او دغه راز د افغان حکومت د مذاکراتي پلاوي دا غوښتنه له ولسمشر سره شریکه کړې چې مذاکرات دې په دوحه کې ادامه ولري. د ارگ له مطبوعاتي دفتره په خپره شوې اعلامیه کې راغلي چې په دې لیدنه کې د گڼو مهمو مسایلو او سولې په برخه کې پر پرمختگونو خبرې شوې دي. سرچینه کاږي، چې ډاکټر عبدالله عبدالله او ولسمشر غني په دې لیدنه کې د مذاکراتو د دویم پړاو د ځای او وخت پر سر هم خبرې کړې دي.
د ولسمشر ویاند صدیق صدیقي هم په یوه ټویټ پیغام کې ویلي چې ولسمشر په دوحه کې د مذاکراتو له دوام سره توافق کړی، خو په افغانستان کې د مذاکراتو د راتلونکو پړاوونو پر مخ بېولو دوی لا هم ټینگار کوي. د ده په خبره، د نړیوالو ملاتړو مشوره هم دا وه چې مذاکرات دې اوس په دوحه کې ادامه پیدا کړي. صدیقي ویلي: ((د مذاکراتي ټیم او ملي مصالحې عالي شورا د رییسانو په غوښتنه، د نړیوالو ملاتړو په مشوره او د مذاکراتو په دویم پړاو کې د ځنډ د مخنیوي لپاره، ولسمشر توافق کړی چې د مذاکراتو دویم دور دې په قطر کې ترسره شي. موږ ټینگار کوو چې د مذاکراتو راتلونکي پړاوونه باید په افغانستان کې ترسره شي)).
له دې سره هممهاله د ولسمشر لومړی مرستیال وایي چې طالبان پر خپلو ژمنو عمل نه کوي. د ده په خبره، د طالبانو او امریکا ترمنځ د هوکړې میاشتې کېږي، خو دغه ډلې لا هم له القاعده شبکې سره خپلې اړیکې نه دي پرې کړې او داسې ښکاري چې د دې دواړو ډلو ترمنځ ملگرتیا نه ختمېدونکې ده. د امرالله صالح په خبره: ((داسې ښکاري چې طالبان له القاعده نه بېلېږي. دا بېلول تر یو ځای پاتې کېدو ډېر گران ښکاري. لس میاشتې د طالبانو او امریکا د تړون کېږي، چې ټینگار یې کړی له القاعده سره اړیکې ختموي، خو لا هم زموږ سرتېري د طالبانو په مرکزونو کې د القاعده غړي په نښه کوي)).
طالبانو د امرالله صالح په تازه څرگندونو تر اوسه څه نه دي ویلي، خو تر دې وړاندې یې ویلي چې القاعده او ټولو ترهگرو ډلو سره اړیکې پرې کوي او دغه راز چا ته اجازه نه ورکوي چې افغانستان د بل هېواد پر وړاندې وکاروي.

# راپورونه: د اروپايي ټولنې په نږدې ټولو هېوادونو کې د کرونا ضد واکسيناسیون پیلېږي


د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۸۰ میلیونه او ۸۱۵ زره او ۲۵۳ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله یو میلیون او ۷۶۶ زره او ۷۹۶ کسان مړه شوي او له ۵۷ میلیونو ډېر ترې ببرته رغېدلي دي.
د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۱۹ میلیونه او ۴۳۶ زره او ۵۷۴ ته رسېدلې او ۳۳۹ زره او ۹۳۴ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.
دغه راز هند د ۱۰ میلیونه او ۱۹۴ زره او ۷۳۲ میلیونه مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د اووه میلیونه او ۴۶۵ زره او ۸۰۶ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ دریم، روسیه د دری میلیونه او ۵۰ زره او ۲۴۸ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او فرانسه د دوه میلیونه او ۵۵۰ زره او ۸۶۴ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.
برېټانیا، ترکیه، ایټالیا، هسپانیا او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.
بلخوا د راپورونو له مخې، د اروپايي ټولنې په نږدې ټولو هېوادونو کې د کرونا پر ضد د واکسیناسیون پراخ بهیر پیلېږي. د اتریش، هنگري، چک جمهوریت، هسپانیا، ډنمارک، فنلنډ، ناروې او سویډن په گډون یوشمېر اروپايي هېوادونو اعلان کړی چې د کرونا ضد واکسین لومړنې ډوزونه ور رسېدلي دي.
دا د فایزر او بیو اېن تیک کمپنیو لهخوا جوړ شوی واکسین دی چې د پولیسو او یا هم پوځ تر څارنې لاندې دغو هېوادونو ته رسېدلی دی.
د اروپايي کمېسیون مشرې اورزولا فن دیرلاین په یوې وېډیو کې چې په ټولنیزو رسنیو کې خپره شوې، ویلي: «موږ د یوه ستونزمن کال د پای اړولو په حال کې یو، ډېر ژر په ټوله اروپا کې د کووېډ-۱۹ پر ضد واکسین پیلېږي. دا واکسین په یوه وخت د اروپايي ټولنې ټولو هېوادونو ته په واک کې ورکړل شوی، خلک به په اتن، روم، هلېسنکي، صوفیه او هرځای کې واکسین شي.»
د نوموړې په خبره، د دغه واکسین تطبیق به گام په گام عادي ژوند ته په بېرته گرځېدو کې مرسته وکړي. د ایرلند چارواکو بیا ویلي، چې د کرونا ضد واکسین نورې محمولې به د راتلونکې جنوري میاشتې په لومړیو کې دغه هېواد ته ورسېږي.
په اروپا کې د دغه واکسین د تطبیق هڅې داسې مهال پیل شوې، چې په اکثرو هېوادونو کې د کرونا ویروس د بدلون موندلې بڼې مخنیوي ته تدابیر جدي شوي دي.

## د کتـــاب خبـــرې

# د جاسوسۍ پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددوراني او ادېتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

## درېیمه برخه
### کشمیر




د کشمیر په تړاو له وړاندې څه نه شي ویل کېدای، هر څه په یوه شپه کې بدلېدای شي، لکه د برهان وانې په مرگ چې هر څه بدل شول. خو دا ښکاره ده چې کشمیریان ناروغ دي، ستړي دي، دوی سوله غواړي. ځکه به دا د ډېرو ویشتل او دا لاریونونه خامخا روان وي.
امنیتي ځواکونه د ستایلو دي، په ۲۰۱۷ کال کې یې ښه کار وکړ، په جگړه مارۍ او ترهگرۍ کې لوی نومونه یې خنثی کړل. جگړه مار خو یا ونیول شول، یا ختم شول او یا یې هم عادي ژوند پیل کړ. خو د ښځو د وېښتانو د قیچي کولو په څېر عجیب او غریب کارونه لا هم کېږي چې دوی یې وحشت بولي.
له ډېلي به ښایي یو چا ته د کشمیر حالت عادي ښکاري؛ خو په کشمیر کې هر څه سم نه دي. ځکه نو د ځانگړي استازي د ټاکلو هرکلی وشو. دلیل چې یې هر څه و، خو لږ تر لږه موږ به له هغه چا سره خبرې وکړو، چې موږ ورسره خبرې پرېښېږي وې.
په کشمیر کې داسې یو څوک اعلی وزیره ده چې له ډېرې مودې راهیسې یې گونگه روژه نیولې ده. له دې سره هغې هم یو څه زړه پیدا کړ او د دې هرکلی یې وکړ. هغې خپلو خلکو ته وویل: «دا هماغه څه دي چې تاسو غوښتل، هر څه به سم شي».
ډاکټر فاروق عبدالله هم وویل چې دا ښه کار دی، خو موږ باید له پاکستان سره هم خبرې وکړو. غلام نبي وویل، ولې مو پر دې کار دا درې کاله تېر کړل؟ «چیدام بارام» چې یو څه موده د کورنیو چارو وزیر و، اوس د کشمیر پر حالت هره ورځ تبصرې کوي، ده ویل چې دا پر دې اعتراف دی چې د حکومت د زور پالیسي کار نه ورکوي. خو ده هم د دې کار هرکلی وکړ.
سېنها: د ۲۰۱٦ کال د پېښو په تړاو د پاکستان غبرگون څه دی؟
دوراني: عام نظر دا و چې د «وانې» تر مرگ وروسته حالاتو کې باید پاکستان لاسوهنه و نه کړي او نه باید پر لاسوهنه ولیدل شي. پر دې نو سرې په اسانۍ پوهېدای شو چې ځینو د نورو په شر کې خیر غوښت، (من من غوښې یې اخیستې). خو په «یوري» کې تر بریدونو او تر دغو په اصطلاح «سپینو بریدونو» وروسته نور د خیر په غوښتلو کې ناستل، زموږ انتخاب نه شو کېدای. موږ له ناچارۍ ورځې مداخلې ته ودرېدو.
زه په پوره باور درته وایم، اوس لویه اندېښنه دا ده چې که د ۲۰۱٦ کال پېښې داسې تعقیب شي چې پر کشمیر د هند کنټرول زیات شي، نو څه کول پکار دي؟
دولت: لکه جنرال صېب یې چې وایي، د برهان تر مرگ له شپږو - اتو میاشتو وروسته له نښنو نښانو داسې ښکارېده چې په کشمیر کې بېلتون غوښتونکي او عام وگړي سره یو کېږي. د دواړو غاړو په ویناوو او څرگندونو کې دا ښکارېدل. د کشمیریانو لپاره به دا ډېر ښه وو، دوی باید گډ فکر کړی وای؛ خو د «UP» تر ټاکنو وروسته گډوال ډېر پاتې نه وو. دې ته نو دواړه هېوادونه خوشاله وو، د هند حکومت ورته ځکه خوشاله و چې دوی له بېلتونپالو سره خبرو ته کېناستل نه غواړي. پاکستان بیا غواړي چې بېلتونپال دې بس د دوی اشارو ته ناځي.
سېنها: د دوی یوازېنۍ غوښتنه دا ده چې بلې غاړې ته «حریت» وپالي.
دولت: هو. حریت د پاکستان ډله ده. هند خپله ډله لري، پاکستان خپله او کشمیریان د دې دواړو په منځ کې دي.
سېنها: جنرال صېب تاسو دا خبره منۍ؟
دوراني: تر ټولو غوره خبره چې ممکنه ښکاري، هغه به دا وي چې کشمیر پر یوه پله بدل شي. دا به زموږ دواړو هېوادونو نه خوښېږي چې د کشمیر د ازادۍ او یا د بیا یوځای کولو لپاره کار وکړي، خو د خلکو هوساینې ته کار کېدای شي.
موږ چې د دې کار اجازه تر لاسه کړو، نو بیا یې ان په تړاو باید خوله لا خلاصه نه کړو. یوه غاړه هم باید دا ونه وایي چې دا د تروریزم اړوند دي که د کشمیر د مسئلې د حل؟ خو پوښتنه دا ده چې دا پروسه به پر حقیقت بدلېږي څنگه؟
دولت: زه دا خبره ډېره نه منم. پکار ده چې کشمیر یو پل شي، دا ښه پیل دی. ما همېشه دا خبره کړې ده چې که موږ خبرې کوو، نو باید له کشمیره یې را پیل کړو. د کشمیر پر مسئلې خبرې پر تروریزم خبرې کول دي. موږ چې پر ترهگرۍ غږېږو، نو که څه هم نوم یې نه اخلو خو مطلب مو کشمیر وي. ترهگري هلته ده.
باید پر دې لاره مزل وشي، خو زه چې گورم دا کار نه کېږي.
اصلي خبره دا ده چې نور باید د کشمیریانو پر حیثیت لوبې ونه شي، دوی ته باید د ماتې احساس ور نه کړل شي. د کشمیریانو د ډېرو وارول د همدې احساس زېږنده دي.
مثلاً «سیاچین» در واخلئ. په دې تړاو خبرو خو نور زما ژبه پولۍ کړې، د دې شکست او انحراف له امله. دا کار تر هغې شونی نه دی، تر څو چې د کشمیر په تړاو یو څه پرمختگ شوی نه وي.
سېنها: که مودي ۳۷۰یمه ماده له اساسي قانونه وباسي، څه به وشي؟
دوراني: زه د هغو حرکتونو تر اغېز لاندې نه راځم چې ښه فکر پرې شوی نه وي او د منلو نه وي. په اصل کې رسنۍ دغسې حرکتونو ته سختې خوشالېږي، دوی ته یې بس خدای ورکړي. خو وروسته چې د دې باد ووځي، نو بل څوک باید له یوې بلې دوکې سره راشي. **دوام لري...**

# غور

حشمت الله نوري



غور د افغانستان له مرکزي ولایتونو څخه دی، چې د بیارغونې له پلوه وروسته پاتې ولایت گڼل کېږي. د کابل په ٤٨٠ کیلومترۍ او د هرات، بادغیس، فاریاب، سرپل، اروزگان، هلمند، فراه او بامیانو په گاونډ کې واقع دی، خو له غوري دورې پاتې منار جام یې لرغونتوب زیات کړی دی.
غور ولایت یو غرنی ولایت دی، چې د جغرافیوي موقعیت له اړخه د شمالي عرض البلد په ۳۱ درجو او ۳٤ دقیقو کې او د ختیځ طول البلد په ۲۵ درجو او ٦٥ دقیقو کې موقعیت او د سمندر له کچې ۲۲۵۰ متره لوړوالی لري.
د دغه ولایت پراخوالی ۳۸٦۰۰ زره کیلومتره مربع ته رسېږي، چې د وگړو اټکلي شمېر یې څه کم اته سوه زره تنه دی او له ۱۹۰۰ کلیو څخه زیات پکې پراته دي.
د دې ولایت ډېری سیمې د زیاتو غرنیو سیمو په درلودلو سره یو ډول موسم نه لري، ځینې یې ډېرې یخې او ځینې نورې یې بیا نسبتاً معتدلې او گرمې دي.
خپله د ولایت مرکز چغچران بیا د اوبو او هوا له اړخه دوه اقلیمه دی، چې په سوېل، ختیځ او لوېدیځ کې یې هوا سړه او واورینه، خو په ژمي کې یې ښلوونکې لارې د پنځو میاشتو لپاره د ترافیکو پر مخ تړل کېږي.
په عمومي ډول د دې ولایت لوړې سیمې واورینې او یخې؛ خو ښکتنۍ او هوارې سیمې یې نسبتاً گرمې دي.
ولسوالۍ
غور ولایت د مرکز په گډون ۱۰ اداري واحدونه لري، چې مرکز یې د چغچران ښار او ولسوالۍ یې له تیوره، تولک، ساغر، پسابند، دولینه، شهرک، دولتیار، چهار سده او لعل وسر جنگل دي.
د دې ولایت ډېری استوگن په دری ژبه خبرې کوي او تر څنگ یې هزارگي ژبه هم له دې امله په کې دود ده، چې دا ولایت له بامیانو سره گډه پوله لري.
د اوبو بندونه
په غور کې د اوبو بندونه نشته، خو د هریرود، فراه رود او مرغاب سیندونه په کې بهېږي. ټاکل شوې چې د چغچران په گرماب سیمه کې د هریرود سیند له پاسه د اوبو یو ستر بند جوړ شي، چې نه یوازې د برېښنا د نشتوالي ستونزه به حل کړي، بلکې زرگونه هکټاره ځمکه به هم خړوبه کړي.
تاریخي ابدات
کله چې د افغانستان د تاریخي اثارو په اړه خبره کېږي، نو د منار جام تر هر څه وړاندې د سړي ذهن ته ورځي. دا جام د غور ولایت د شهرک ولسوالۍ د شمال- ختیځ په ٦۰ کیلومترۍ کې د جام په کلي کې موقعیت لري، چې د ملگرو ملتونو د فرهنگي سازمان یونسکو لخوا د نړۍ په تاریخي اثارو کې شمېرل شوی دی.
منار جام د غوریانو په دوره کې د سلطان غیاث الدین غوري د سلطنت پر مهال رغول شوی، چې د لرغونې معمارۍ او لوړوالي له اړخه د هندوستان په ډهلي کې له قطب منار څخه وروسته د نړۍ دویم کم پیدا شهکار او منار گڼل کېږي.
د دې ولایت د دولتیار ولسوالۍ له کشک کهنه سیمې څخه هم د بودایي دورې ( له ۲- ۵ میلادي پېړۍ) اثار تر لاسه شوي، چې لرغونوالی یې له اسلام څخه زر کاله وړاندې ښودل شوی دی.
د غوري دورې تاریخي ابده (قلعه ملک عنتر) هم په تولک ولسوالۍ کې ده، چې یو وخت د غوریانو ستر مرکز و، چې چنگیز یې هم په نیولو نه و توانېدلی.
د دې ولسوالۍ له گاوگش تاریخي سیمې څخه هم په بېلابېلو ځانگړو لیکنو او تصویرونو ښکلې شوې د سرو زرو سکې تر لاسه شوې دي، چې د غوریانو د تاریخي دورې نښې دي.
چغچران ته څېرمه د قلعه ضحاک په نامه هم یوه تاریخي سیمه شته، چې له تر لاسه شوو تاریخي اثارو څخه یې لرغونتوب اوو زرو کلونو ته رسېږي .
د غور ولایت د اطلاعات او فرهنگ ریاست د څېړنو له مخې، په دغه ولایت کې د سلو په شاوخوا کې تاریخي سیمې ثبت شوې، خو لا هم زیات کار ته اړتیا ده، څو ټولې تاریخي سیمې ثبت شي.
موزیم
په غور کې هم د ځینو نورو ولایتونو غوندې موزیم نشته او تر لاسه شوي تاریخي اثار یې کابل ته لېږدول کېږي. اوسمهال څو تاریخي اثار د دې ولایت په اطلاعات او فرهنگ ریاست کې ساتل کېږي او ټاکل شوې چې د ریاست په اډانه کې یو موزیم هم جوړ شي.
په تېره یوه لسیزه کې د مجسمو او سفالي لوښو په گډون، په سلگونو نور قلمي اثار په تاریخي ساحو کې د کیندنو له امله په لاس راغلي او وروسته بیا پاکستان او ایران ته قاچاق شوي دي.
د افغانستان د اساسي قانون د لومړي څپرکي د نهمې مادې له مخې، معدنونه او نور تر ځمکه لاندې تاریخي اثار د دولت شتمني ده، له دولتي شتمنیو څخه د ساتنې او د دې ترڅنگ له طبیعي زېرمو او نورو عامه ملکیتونو څخه سمه ساتنه د قانون له لارې تنظیمېږي.
مشاهیر
غور ولایت له پخوانیو پاچاهانو پرته د شاعرانو او ادیبانو کور هم دی، چې له دې ډلې څخه کولی شو د غلام حیدریگانه او مهاج السراج نوم واخلو، چې ډېر شعري اثار یې خپاره شوي دي.
د دې ولایت په لیکوالانو کې کولی شو د مستمند غوري، عبدالقادر امامي غوري، نبي ساقي، فضل فایق، محمد رسول فگار، سید علي مشفق او علي عالمي کرماني نومونه یاد کړو.
رسنۍ
غور یو له هغو ولایتونو دی، چې په تېره یوه لسیزه کې یې په فرهنگي برخه کې ښه پرمختگ کړی. همدا اوس په دې فرهنگپال ولایت کې د ۲۱ په نامه میاشتنۍ، فیروز کوه، شنسب، سام، صدای غور مجله، پیام شهروند، فکر نو، اندیشهٔ جوان، اراده مردم او نورې خپرونې فعالې دي.
د دې تر څنگ، یو دولتي راډیو- ټلوېزیون، یوه خصوصي راډیو او پنځلس بېلابېلې چاپي خپرونې فعالې دي، خو د ټلوېزیوني خپرونو په برخه کې یوازې د ملي ټلوېزیون خپرونې فعالې دي، چې په ۱۳۸۵ لمریز کال فعالې شوې او د شپې له اړخه د مرکزي ملي ټلوېزیون خپلې ریلې کوي.
سره له دې چې د صدای عدالت په نامه یوه خصوصي راډیو هم په کې فعاله ده، خو د رسنیو په برخه کې یوه ورځپاڼه هم نه لري، همداسې ښځو ته ځانگړې شوې کومه چاپي او غږیزه خپرونه هم نشته.
پوهنه
په غور کې له ۸۰۰ ډېر ښوونځي شته چې له دې ډلې ۱۸۰ یې د ښځو، ۱۵ یې گډ او پاتې نور یې د هلکانو ښوونځي دي. د دې ښوونځیو د زده کوونکو شمېر ۲۰۰ زرو ته رسېږي، چې ۷۰ زره یې نجونې او د تدریس چارې یې د ٤٤۰۰ ښوونکو لخوا مخ ته وړل کېږي.
د دې تر څنگ، دوه تخنیکي انسټېټیوټونه، شپږ دارالمعلمینونه، دوې د کرنې لیسې، ۱۷ مدرسې او دارالمعلمینونه، ۱۰۵ کورني ښوونځي، ۹۰ د نړیوال مشارکت ښوونځي او یو دارالحفاظ هم فعال دی.
یوه د لوړو زده کړو موسسه په ۱۳۹۱ لمریز کال پکې جوړه شوه، چې د ٤٥ نجونو په گډون ۲٦۰ محصلین لري او په ریاضي، فزیک، کمپیوټر، انگلیسي، کیمیا، بیولوژي او کرنې برخو کې زده کړې ورکوي.
صنعت
په غور ولایت کې ډېری لاسي صنایع په ښځو پورې اړوند دي، دوی غالۍ، ټغر، لمڅي او نور پشمونه چې د وزو او پسونو له وړیو جوړېږي، جوړوي.
د غور ښځې د دې تر څنگ د ځایي جامو لکه پیرهن، چپنو، چادرۍ، ښځینه او نارینه خولیو او نورو پر گنډلو بوختې دي.
د تولک ولسوالۍ قالینچې یا وړوکې غالۍ ښه نوم لري، په دغو قالینچو کې د غور د پخوانیو پاچاهانو او منار جام تصویرونه نقش شوي وي.
د غور نارینه د بېل او کلنگ په څېر د کار وسایل جوړوي، چې په کرکیله کې ترې کار اخلي.
د دغه ولایت خرقې هم تاریخي اهمیت لري، چې د غور په مرکزي سیمه الله یار کې ډېرې جوړېږي، لوړ کیفیت لري او تر ډېره یوازې شتمن کسان یې کاروي، ځکه چې بیه یې تر زرو افغانیو پورې رسېږي.
کرنه
غور یو کرنیز ولایت دی، چې د خلکو ډېرې اقتصادي اړتیاوې یې له کرکیلې پوره کېږي.
د دې ولایت ډېر عمده کرنیز محصولات له غنمو، جوارو، کچالو، پیازو او د غوزانو په څېر وچو مېوو او د باقلي، لوبیا او میو په څېر ځینو حبوباتو څخه عبارت دي.
مالداري هم په دې ولایت کې دود ده، چې اوسېدونکي یې پرې خپلې اقتصادي ستونزې حل کوي، کورت، وړۍ او پوستکي یې له مهمو حیواني محصولاتو دي.
د غور ډېرې سیمې غرنۍ دي، نو له همدې امله یې هوا هم په شمال کې یو ډول، خو په سوېل کې بیا بل ډول ده، د مرغاب ډېرې سیمې یې د مرغاب سیند له برکته شنې او سمسورې دي، ښکلې هوا لري او حتی د مرغاب ډېری ښوونځي هم د دې ولایت د نورو سیمو خلاف په ژمي کې فعال وي.
ورزش
ورزش په وروستۍ لسیزه کې په غور ولایت کې ښه وده کړې او اوسمهال په کې د نارینه وو لپاره د فوټبال، والیبال، تکواندو، باسکټبال، وشوو، کانگفو، تکواندو، کاراته، کیک بُکس، کورش(چپنکي غېږباسنه)، د بدن ښکلا، سپک اتلتیک (له مرمۍ سره منډه)، هندبال، شطرنج، سنوکر، کبډي او وزلوبې ۲۰ ورزشي فدارسیونونه فعال دي، چې تر ډېره په کې ځوانان لوبېږي.
په چغچران کې څو سالونونه او یو لوبغالی هم شته، چې په وروستیو څو کلونو کې جوړ شوي او ټاکل شوې په دې ولایت کې یو زرغون میدان هم په روان لمریز کال کې جوړ شي. د دې تر څنگ د ښځو لپاره په یوه جمنازیوم هم کار روان دی.
د دې ولایت ښځې د فوټبال، والیبال، تکواندو او باسکټبال په برخو کې فعالیت لري، چې شمېر یې تر ۲۰۰ کسانو پورې رسېږي.
خو د وزلوبې دودیزه لوبه په کې له ډېر پخوا نه دود ده، چې د خوښۍ په محفلونو او ملي ورځو کې تر سره کېږي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۲ |
| € | ۹۳,٦ |
| Rp. | ٤۷۹ |
| ₹ | ۱۰٤۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰۳ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# له نیوکې وېره

**ژباړه: حمیدالله حمیدي**

د ناپلیون هېل د څرګندونو پر اساس، نیوکه د خدمت کولو یوه بڼه ده چې ځینې کسان د دې خدمت په وړاندې کولو کې زیاتی کوي. هر څوک په خپل لاس کې د نیوکو یوه ټوکرۍ لري او که مقابل لوری یې وغواړي او که ویې نه وغواړي، خپلې دغه نیوکې ډېرې ارزانه پرې پلوري. هېل وایي چې تر ټولو نږدې خپلوان، تر ټولو بد نیوکه کوونکي دي.

د نورو خلکو نیوکې او افکار کولای شي زموږ پر کارونو حیرانوونکې اغېزې وکړي، داسې چې د تاریخ په اوږدو کې ډېرو کسانو یوازې د نورو د عقایدو پر اساس خپل ژوند او موخې په یوه ټاکلې محدوده کې ساتلې دي. نو تاسو باید په دې پوه شئ چې څوک غواړي ستاسو فکرونه، عقاید او په ټوله کې ستاسو ژوند تر خپل کنټرول لاندې راولي. تاسو او که کوم بل څوک؟

ډېری وخت اورو چې د ډېرو خلکو په مخ کې خبرې کول تر ټولو لویه وېره ده. لامل یې څه دی؟ یوازینی منطقي دلیل د مخاطبینو تر نیوکو لاندې د راتللو وېره ده. زموږ ډېری خلک هېڅکله ځان ته د دې زحمت نه ورکوو چې پر دې وېرې د برلاسي کېدو لپاره اړین مهارتونه او وړتیاوې زده کړو او د نورو په مخ کې د خپلې خوښې وړ موضوع په اړه له خبرو خوند واخلو.

لوی ویناوال اړ دي چې د خپلو مهارتونو د لا غوړولو لپاره سخت زیار وباسي. لومړنی ګام له هغه څخه پر وېرې برلاسي کېدل دي چې نور یې زموږ په اړه فکر کوي.

فرض کړئ چې په یوه ناپېژانده سیمه کې پر کنګل شوې لاره باندې پلې روان یاست، دا چې لاره یخ نیولې ده، پښې مو پرې ښوییږي او پر ځمکه لوېږی. لومړنی فکر چې ستاسو ذهن ته رسېږي، څه دی؟ خپل شاوخوا ته ګورئ څو باوري شی چې چا نه یاست لیدلي. تاسو په دې سیمه کې حتا یو کس هم نه پېژنی، خو لومړنی غبرګون مو دا دی چې د ځان په اړه د نورو پر فکر او نظر ځان پوه کړی. په حقیقت کې غواړی دغو پوښتنو ته ځواب ورکړی، چې: «زه چا ولیدلم؟» او تر هغه هم اړینه دا چې: «هغه به زما په اړه څه فکر کوي؟»

**له ناروغۍ وېره**

د هېل په لیکلړ کې بل خنډ له ناروغۍ نه وېره ده. کله چې د شپې خپرېدونکو خپرونو ته پام وکړئ، د هرې خپرونې په پیل او پای کې د ډېرو نویو ناروغیو په اړه خبرې کوي چې نویو درملو او درملنو ته اړتیا لري. په خواشینۍ سره چې د دغو نویو درملو اغېزې د ناروغۍ له اغېزو څو برابره زیاتې دي، خلک خپله ټوله هڅه کوي چې هر څومره ژر چې کېږي، د درملنې دغه تګلارې عملي کړي او لاسته یې راوړي. په دې برخه کې ناوړه ګټه اخیستونکي د دې لامل کېږي چې خلک پر هغو ناروغیو تمرکز او ټینګار وکړي، چې کېدای شي هېڅکله پرې اخته نه شي او پر دې اساس خپلې پیسې په داسې درملو ورکوي، چې په اصل کې هېڅ اړتیا نه ورته لري.

په دې اړه هم باید ووایو چې وېره د انسان په ذهن کې رامنځ ته کېږي، لکه څنګه چې هېل ډېر وخت اشاره کوي چې دغه افکار د هغو موضوعاتو زېږنده دي، چې موږ پرې تمرکز کوو. کله چې دا زده کړی چې څه ډول کولای شی خپل افکار کنټرول کړی، پر دغو وېرو غلبه او برلاسي کېدل اسانه کېږي. البته ستاسو غوښتنه دا ده چې خپل بدن او روغتیا ته پاملرنه وکړئ او خپله روغتیا او تناسب وساتئ؛ خو غوښتنه مو دا نه ده چې له ناروغۍ وېره ستاسو پر ذهن مسلطه شي.

بله وېره چې ښاغلی هېل ورته اشاره کوي، د مینې او لېوالتیا د له لاسه ورکولو وېره ده. دغه وېره تر ټولو دردونکې وېره ده. هېل پر دې باور دی چې دغه وېره تر بل هر څه زیات د انسان جسم او ذهن تخریبوي او په ډېر احتمال سره له پخواني عصر نه منشا اخلي.

د دې وېرې څرګندې نښې په دې ډول دي:

شک او بد ګوماني: د هغو کسانو په اړه شک او ناسم ګومان کول چې مینه ور سره لرو، پرته له دې چې د دغو بد ګومانیو لپاره مستند او منطقي دلایل په لاس کې ولرو، له هغه سره اړیکې پرې کوي، دا کار مه کوئ. ښه ده چې لومړی د هغه په اړه ښه باوري شی او له باور وروسته بیا پرېکړه وکړئ.

د عیبونو پلټل: د خلکو په کارونو او چلند کې د عیبونو پلټنه.

د نورو د مینې پېرودل: د پیسو د لاسته راوړلو لپاره له ډېرو لارو کار اخیستل او د دغو پیسو مصرفول د هغه چا لپاره چې مینه ور سره لرو، یوازې د دې تصور پر اساس چې ګواکې مینه په پیسو اخیستل کېږي.

له زړښت او بوډاتوبه وېره: ښاغلی هېل وایي چې له زړښت او لوړ عمر نه وېره له پخوا نه زموږ په ذهن او روان کې دننه شوې ده. په رښتیا ولې خلک له زړښت او لوړ عمر ته له رسېدو وېره لري؟ دغه وېره دوې اساسي سرچینې لري. لومړی دغه فکر او نظر درلودل چې لوړ عمر او زړښت له ځان سره فقر لېږدوي. دویم او تر ټولو مشهور لامل چې کېدای شي د تېرو تېروتنو پر اساس رامنځ ته شوی وي، دا دی چې بوډا او لوړ عمر لرونکي کسان په ناوړه حالت کې ژوند کوي، ډېرې ناروغۍ تجربه کوي او په پای کې د خپلې کورنۍ د غړو له پامه لوېږي.

دویم؛ یاد دلیل یوه شخصي موضوع ده او د کورنۍ په ډول او د هغوی په تربیې پورې اړه لري، نو د هېل له نظره هماغه لومړۍ موضوع څېړو. هېڅ انسان نه غواړي چې د خپل عمر وروستي وختونه په فقیرانه کور کې تېر کړي. همدا لامل دی چې د تقاعد، ټولنیز امنیت او د زړښت او بوډاتوب اړوند موضوعاتو ته ډېره پاملرنه شوې ده.

د مالیاتو او بیمې برخې هر شرکت او کار کوونکی خپلو ټولو پېرودونکو ته دغه جمله کاروي چې: «ستاسو د کورنۍ او ډېرو مالي ستونزو د مخنیوي لپاره غواړو مرسته در سره وکړو، څو ستاسو شتمني د عمر تر وروستیو شېبو پورې له تاسو سره پاتې شي.»

دغه جمله داسې طراحي شوې ده چې پر پېرودونکي لویه وېره برلاسې کړي او همدغه ساده جمله تاسو له راتلونکې وېرې یانې د مرګ له وېرې سره مخ کوي.

## مشرانو جرګه: د روان وضعیت دوام خلک اندېښمن او پر حکومت بې باوره کړي



مشرانو جرګې حکومت د خلکو د امنیت ټینګښت په برخه کې ناکام ګڼلی او وایي چې د هېواد په کچه د هدفي وژنو دوام خلک پر حکومت بې باوره کړي او هېڅوک ځان خوندي نه بولي.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې په کابل او یو شمېر نورو ولایتونو کې هدفي وژنې او ماین چاودنې زیاتې شوې دي.

په مشرانو جرګه کې د کاپیسا د خلکو استازي مولوي محی الدین منصف د جرګه په پرونۍ ناسته کې وویل: ((څو ځلې مو له امنیتي سکتوره غوښتنه وکړه چې امنیتي پلان ته بیا کتنه وکړي، څو د مرموزو او هدفي ترورونو مخه ونیول شي.))

نوموړی امنیتي سکتور د هېواد په کچه د هدفي وژنو او ترور مخنیوي په برخه کې ناکام بولي او وایي، په ښار کې باید د ترور مخه ونیول شي؛ ځکه د ده په خبره، اوس هېڅوک ځان خوندي نه احساسوي.

په دې جرګه کې د سمنګان د خلکو استازي صفي الله هاشمي وویل: ((ډېر د تاسف ځای دی چې هره ورځ مشهور کسان وژل کېږي او مسوولین یې یوازې غندي، یوازې په غندنو باید بسنه ونه شي.))

د دې جرګې نورو غړو هم د هېواد په کچه د مرموزو او هدفي وژنو د مخنیوي غوښتنه وکړه او ویې ویل، د یادو پېښو عاملان باید ونیول شي. د مشرانو جرګې لومړي نایب محمد علم ایزدیار زیاته کړې، حکومت باید د مرموزو او هدفي وژنو په اړه ځواب ووایي؛ ځکه د هېوادوالو د امنیت ټینګښت د حکومت دنده ده.

هغه د حکومت امنیتي ستراتېژۍ ته د بیا کتنې غوښتنه وکړه او ویې ویل، تر اوسه امنیتي سکتور په دې برخه کې سم پلان نه لري او مسوولین په دې برخه کې ناکام دي.

هغه زیاته کړه: ((د هدفي او مرموزو وژنو دوام او تسلسل پر حکومت او ژوند خلک بې باوره کړي او په فعلي شرایطو کې هېڅ د امنیت احساس نه کوي.))

## پاکستان: په افغانستان کې روانې جګړې او تاوتریخوالی د اندېښنې وړ دی

پاکستان وایي چې د دوی په همکاریو د امریکا او طالبانو ترمنځ تړون وشو، بین الافغاني مذاکرات پیل شول او د طالبانو او افغان دولت ترمنځ د خبرو اترو پر طرزالعمل هوکړه وشوه.

د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت له خوا په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي، چې د افغان شخړې د سیاسي هوارې لپاره د افغانستان د سولې پروسه په ښه توګه پرمخ روانه ده او پاکستان به په دې برخه کې خپلو همکاریو ته ادامه ورکوي.

سرچینې زیاته کړې چې که څه هم په افغان سوله کې د ځینو افغانانو او نړیوالې ټولنې له خوا د پاکستان د هڅو ستاینه شوې، خو بیا هم په افغانستان کې ځینو کړیو په دې اړه ناسمې څرګندونې کړې چې د پاکستان اندېښنې یې راپارولې دي.

پاکستان پر دې ټینګار کړی، چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د اصولو له مخې، د استخباراتي او امنیتي مسایلو ترڅنګ دوه اړخیز موضوعات د رسمي چینلونو له لارې مطرح شي.

په خبرپاڼه کې راغلي، چې پر همدې ډول موضوعاتو د بحث لپاره د دواړو هېوادونو د عمل پلان ناستې ترسره کېږي.

د سرچینې په وینا، د یو بل ملامتول او د تورونو پورې کول نه یوازې د افغان سولې پروسې ته ښه نه دي، بلکې هغو هڅو ته هم زیان رسوي چې د دواړو هېوادونو د اړیکو پراختیا لپاره کېږي.

د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت وایي، دوی تل ټینګار کړی چې د افغانستان شخړه نظامي حل لاره نه لري او باید سیاسي حل لاره ورته وکتل شي، په همدې موخه پاکستان تل د افغانانو په مشرۍ او مالکیت د سولې د پروسې ملاتړ کوي او اسانتیاوې یې ورته برابرې کړې دي.

په خبرپاڼه کې راغلي، د پاکستان په همکاریو د امریکا او طالبانو ترمنځ تړون وشو، بین الافغاني مذاکرات پیل شول او د طالبانو او افغان دولت ترمنځ د خبرو اترو پر طرز العمل هوکړه وشوه.

سرچینې زیاته کړې، دا چې د مرغومي په ۱۵مه، نېټه د دواړو لوریو ترمنځ د سولې د مذاکراتو دویم پړاو پیلېږي، دوی به د افغانستان پر راتلونکي سیاسي جوړښت خبرې کوي.

د سرچینې په خبره، پاکستان په افغانستان کې د جګړې پر زیاتېدو اندېښنه څرګنده کړې او لومړي وزیر عمران خان څو ځلې د تاوتریخوالي کمولو او اوربند غوښتنه کړې ده.

پاکستان ویلي چې افغان حکومت باید د خپلو خلکو د امنیت لپاره جدي اقدامات وکړي او دوی حاضر دي چې په دې برخه کې له افغان حکومت سره له بېلا بېلو لارو همکاري وکړي.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

WAYGAL
PRINTING CO
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

دوشنبه د ۱۳۹۹ د مرغومي اتمه | د ۲۰۲۰ د ډسمبر ۲۸مه | ٦٥٣مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲ | ۶ | ۵ | ۷ | ۱۱ | ۶ |
| -۱۱ | -۲ | -۳ | ۰ | ۰ | ۱ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۲۹ | لمر ختل ۰۶:۵۸ | ماسپښین ۱۱:۵۵ | مازیګر ۰۳:۱۳ | ماښام ۰٤:٥۱ | ماخوستن ۰٦:۲۱


## نړۍ



راپورونه: د اروپايي ټولنې په نږدې ټولو هېوادونو کې د کرونا ضد واکسیناسیون پیلېږي

۳

## جو بایډن: د ټرمپ له لوري د کرونا اړوند د کانګرېس د پرېکړې نه لاسلیکول به ناوړه پایلې ولري



دا چې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د کرونا له اقتصادي عواقبو سره د مقابلې لپاره د کانګرېس د پرېکړې له توشېح کولو ډډه کړې، د ملیونونو امریکایانو د بېروزګارۍ معاش قطع شوی دی. په ورته مهال د امریکا منتخب ولسمشر جو بایډن ویلي چې د ولسمشر ټرمپ له لوري د کانګرېس د پرېکړې نه لاسلیکول به ناوړه پایلې ولري. دا په داسې ده چې ولسمشر ټرمپ د تېرې سې شنبې په ورځ د کرونا ویروس له کبله له اقتصادي ستونزو سره د مقابلې لپاره د کانګرېس له لوري د ۸۹۲ میلیارد ډالري مرستې پر تصویبېدو سختې نیوکې وکړې او ویې‌ویل چې هغه به ویټو کړي.

د ولسمشر ټرمپ له لوري د دې پرېکړې د نه‌تصویبېدو په صورت کې څه باندې ۱۱ میلیونه امریکایان د بې‌کارۍ معاش له لاسه ورکوي او دا خطر هم شته چې د فدرالي حکومت د میلیونونو کارکوونکو معاش قطع شي.

په دغې طرحې کې د کرونا له کبله له بېکارو شویو خلکو سره د مرستو او د کورونو کرایې سربېره، ځینې نورې مهمې مرستې هم شاملې دي. دا لایحه کانګرېس منلې وه او د توشېح لپاره یې ولسمشر ته استولې وه.

ولسمشر ټرمپ په ګانګرېس د دغې طرحې له کبله انتقاد کړی و. ټرمپ په دې اړه په خپل ټویټر کې لیکلي: «زه یوازې غواړم چې خپلو خلکو ته د ٦۰۰ ډالرو پر ځای ۲۰۰۰ ډالر ورکړم او دا خبره په دغې لایحې کې وه او ما غوښتل چې د میلیونونو نورو ډالرو د لګښتونو مخه ونیسم».

## راپورونه: په پاکستان کې د پوځي هلیکوپټر د لوېدو په پېښه کې څلور تنه وژل شوي

د راپورونو له مخې، د پاکستان ګلګت سیمه کې د یوې پوځي هلیکوپټرې د لوېدو په پېښه کې دوه پیلوټان او دوه پاکستاني عسکر وژل شوي دي. د پاکستان د پوځ مطبوعاتي څانګې د اعلامیې له مخې، یاده هلیکوپټر د تخنیکي ستونزو له امله د ګلګت په بالیستان سیمه کې لوېدلې ده. د پوځ په اعلامیه کې راغلي، چې هلیکوپټر په سیمه کې د پاکستان د یوه وژل شوي عسکر د انتقالولو لپاره تللې وه، چې سقوط یې کړی دی.

د پاکستان د پوځ مطبوعاتي ادارې د معلوماتو په اساس، په دغه پېښه کې هلیکوپټر هم له منځه تللې ده. دا په دې وروستیو کې د پاکستان د پوځ څلورمه هلیکوپټر ده چې د تخنیکي ستونزو له مله نسکورېږي. په ۱۳۹۴ لمریز کال هم د پاکستاني پوځ یوه هلیکوپټر چې بهریني او محلي جګپوړي چارواکي په پکې سپاره وو، په یوه پوځي ښوونځي راولوېده او د ۱۹ سپرلیو څخه یې لږ تر لږه ۷ تنه ووژل شول. په وژل شویو کسانو کې په اسلام اباد کې د فلیپین او د ناروې سفیران او د مالیزیا او اندونیزیا د سفیرانو مېرمنې او د عملې درې غړي شامل وو. د پاکستان هوایي ځواک هغه مهال هم د هلیکوپټر د لوېدو لامل تخنیکي ستونزه بللې وه.

## وزارت صحت عامه: شمار مجموعی جان باختگان ویروس کرونا در افغانستان، به ۲۱۷۰ نفر رسیده است



وزارت صحت عامه، از ثبت ۱٦۰ واقعهٔ جدید بیماری کرونا در یک شبانه روز گذشته در کشور خبر داده و می گوید که از این جمع، ۴٦ تن از مبتلایان در هرات می باشند.

وزارت صحت عامه می گوید که در یک شبانه روز گذشته، تست کرونای ۱۵۹۳ تن انجام شده، که نتیجهٔ آزمایش ۱٦۰ تن شان مثبت میباشد. منبع افزوده است که با ثبت این آمار، تعداد مبتلایان به این ویروس در افغانستان، تا کنون به ۵۲۰۰۷ تن افزایش یافته است.


در خبرنامهٔ این وزارت که دیروز نشر شده آمده است که ۴٦ تن در هرات، ۲۷ در کابل، ۲۵ در تخار، ۱۱ در پکتیا، ۱۰ در ننگرهار، ۱۰ در بادغیس، ۴-۴ در بغلان، لغمان، کنر، خوست، فاریاب و نورستان، ۳-۳ در ولایات وردک و پنجشیر و یک تن دیگر در کندهار به ویروس کرونا مصاب شده اند.

براساس معلومات خبرنامه، در یک شبانه روز گذشته، ۳۱۹ فرد مبتلا به ویروس کرونا، دوباره صحت یاب شده و شمار مجموعی بهبود یافتههای این بیماری، به ۴۱۳۳۱ تن می‌رسد.

همچنان وزارت صحت گفته است که در ۲٤ ساعت گذشته، ۱۲ تن به اثر ابتلا به (کوید- ۱۹) فوت کرده و از آغاز شیوع ویروس کرونا تاکنون در افغانستان، شمار مجموعی جان باختگان از اثر این بیماری، به ۲۱۷۰ نفر رسیده است.

## ژوند


## د شاتو، لیمو او نیمه ګرمو اوبو ګټې!



د لیمو د ګټو په باره کې خو به مو خامخا اورېدلي وي، خو که لیمو په ترمو «نیمه ګرمو» اوبو کې واچول شي او ورسره لږ شات هم ور ګډ شي او هر سهار په نهاره وڅښل شي، نو ډېرې زیاتې ګټې لري. لیمو او شاتو کې الیکټرولایټ، پوټاشیم، کلسیم او مګنیزیم د انسان بدن تر او تازه ساتي او بدن کې د اوبو کمی هم ډېر ژر پوره کوي. د پلو او زنګنو دردونه له منځه وړي، د معدې او هاضمې نظام ډېر ښه کوي، ځیګر پاکوي، د مرۍ میکروب، درد او سوخت ورکوي، کولمې پاکوي او میکروبونه یې وژني. بدن کې د ناروغیو د ورکولو «انټي اسیډنټ» پیدا کوي. د وینې رګونه پاکوي. د وینې فشار عادي او نارمل ساتي. په یادو موادو کې د ویټامن سي له امله د بدن پوستکی پاک او له هر ډول میکروبونو خوندي وي. یوریک اسید له منځه وړي. یوریک اسید د پلو، غړو او بندونو د دردونو لامل کیږي. د معدې او سینې تیزابیت له منځه وړي. د ګردې او تریخي کاڼی ماتوي.

## ریالمي نوی ځیرک موبایل له ٦۴ واټه چارجر سره وړاندې کړ

ریالمي کمپنۍ غواړي چې د خپلو ځیرکو موبایلونو اېکس لړۍ نوره هم وغځوي، هغه په همدې موخه خپل نوی ریالمي اېکس۷ موبایل بازار ته وړاندې کړی. دغه ځیرک موبایل اوسمهال تایلینډ کې د دې کمپنۍ پرلیکه بازارونو له لارې خرڅلاو ته وړاندې شوی دی. ریالمي اېکس۷ پرو چې له ۵جي ټکنالوژۍ څخه هم ملاتړ کوي، ٦،۵۵ انچه امولېډ ډوله مخپاڼه لري. دغه مخپاڼه له ۱۲۰ هرتز ریفرېش رېټ او ۲۴۰ هرتز ټچ سمپلېنګ رېټ څخه د ملاتړ وړتیا لري. دغه ځیرک موبایل ۴۵۰۰ ملي امپیره وړتیا لرونکې بېټرۍ لري او ٦۵ واټ سوپر ډاټ چارجر سره خرڅلاو ته وړاندې شوی، چې ډېر لږ وخت کې دغه ځیرک موبایل په بشپړه توګه چارجولی شي.




ریالمي اېکس۷ پرو کې ۸ ګیګابایټ رم او ۱۲۸ ګیګابایټ د فایل ثبتونې وړتیا ورکړل شوې ده. شاتنۍ برخه کې څلور کامرې لري چې ٦۴ مېګاپکسله اصلي کامره او ۸ مېګاپکسله الټراوایډ اېنګل کامرې پکې شاملې دي. مخکینۍ برخه کې ۳۲ مېګاپکسله وړتیا لرونکې سېلفي کامره هم لري. د دغه ځیرک موبایل بیه ۱٦۹۹۰ تایلینډي بات ټاکل شوې چې تقریباً ۴۳۵۰۰ افغانۍ کېږي.

عزیزي بانک
Azizi Bank

د ازي پې (AZIPAY) پرمختللې بڼه

عزیزي بانک خپلې د ازي پې بڼوې ته پراختیا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او ګټې لکه: بایومټریک ننوتل-د ګوتې او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، دري او انګلیسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنی ستېټمنټ لیدل، د صرافۍ خپلکاره ماشین څخه د ازي پې پرمټ د کارت پرته پیسې وېستل، د مبایل شمېرې ته پیسو استول او د د صرافۍ خپلکاره څخه یې ماشین ترلاسه کول، د مبایل شمېرې ته کریډیټ زیاتول، د بل اداینه او نورې برخې وړاندې کوي

مهرباني وکړئ نوې بڼه یې له اپسټور او پلې سټور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازیاتو معلوماتو لپاره 1515 شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ.

www.azizibank.af 1515

